



د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 23 اګست 2015 م

# پاکه خدایه

لاسونه مي جیګ کړي پاکه خدایه مهربان شه
قاتلان له وطن ورك کړه دیتیمو نګهبـــان شه

ټول کابل په وینو سور دي
هرشیبه خلك تباه کیږی
پاکه خدایه څه ضرور دی
چه له قهره دی دا کیږی

ورک وحشیان کړه له وطنه مهربانه په افغان شه
قاتلان لـــــه وطن ورک کړه دیتیمو نګهبان شـــه

که یم پښتون هزاره ګان می وژنی
که هزاره یم تاجیکان می وژنی
که یم تاجیک بیا له ازبکو نه ډ ار
که یم ازبک بیا له دی ټولو نه ډار

لاری دی ورکی پاکـــه خدایه ته ساربـــان شه
قاتلان له وطن ورك کړه دیتیمو نګهبـــان شـــه

بســـکه ای ځوانـــه د ټوپکو ډزی
ډیر ماشومان دی کړل تنها په ډزو
هم دی واړه همدی سری اوښځی
کړل دی له یو سره تبـــاه په ډزو

وحشت بســــکه توپک پرېږده او انســـان شـــه
قاتلان له وطن ورک کړه دیتیمو نــــــګهبان شه

دا رنـــــځونه دا دردونـــــــه
نور نو بـــس دی پـــــه افغان
دا بي ځایه زحمتـــــــــونــه
نور نو مګالــــــه رحمـــــــان

قلم واخله ځان ښکاره که ټول افغان ته په فغان شه
قاتلان له وطن ورک کړه دیتیمو نګهبـــــــان شه

****

محب الرحمن « خطیبي »

www.said-afghani.org بازگشت به صفحه اصلی